## حمد

ربــه کــړی دې مخلــوق بانــدې احســان دی
پــه نومونــو کــې یــو نــوم د تــا رحــمان دی

ســتا د کــوم نعمــت شــکرونه مــونږ ادا کــړو
اندامونـه دې راکـړي دا دې فضـل پـه انسـان دی

تــه مالــک او هــم خــالق یــې زمــا ربــه
دا د هــر موجــود پــه وخــت روزي رســان دی

د مالــدار او د غریــب د حــال خــبر یــې
ستا خو عرش ډېر دی اوچت آن په اسمان دی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيغمبر دې رالېږلى او قران دې پرې نازل کړو
اخرت د ورځ لپاره دا زمونږه لوى درمان دى

مونږ په ځمکه ثنا وايو او په ځمکه کې ميشته يو
خو پوهېږو الوتونکي دى هوا کې په فرمان دى

که هر څومره زه توصيف وکړم د تا د ذات اى ربه
صفتونه دې بې شميره دي اوچت خو دا ستا شان دى

بندګان دې کوي ذکر په هر لوري د دنيا کې
*مياخېل* هم هميشه ستا د صفاتو ثنا خوان دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعت

امتي د محمد يم دا د خـداى يـو غـټ نعمـت دى
خداى پرې وحې کړه نازله دا معلـم د بشـــريت دى

تکليفونـه يـې ګـاللي دي د ديـن پـه لار کـې ربـه
رسـولي يـې تـر مـونږه دا يـې کـړى شـفقت دى

د کـــافر او مســـلمان د لانجـــې هـــره مســـله کـــې
دى قاضي او هم وکيل و تل يې کـړى عـدالت دى

د جبراءيـل وسـه ونشـوه خـو نبـي لاړو معـراج تـه
له دې ښکاري چې په ټولو انسانانو کـې اوچـت دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومتوب نه دی هوښیار و په امـین هـم مشـهور و
هــر کــافر او مســلمان ورسره ایښــی امانــت دی

د یـارانو بـه پـه خـوا کـې و غـزا تـه بـه چـې لاړل
له دې نـه معلـومېږي چـې نبـي مـو بـا همـت دی

په خبرو کې یې دروغ نه و همـیش بـه و ریښـتینی
د همـدې خـاطر لپـاره مشـهور یـې صـداقت دی

د هغې دنیا په سختو کې چې ګیر هـر مسـلمان وي
په نبیانو کې اوچـت دی بیـا شـفیع پـه اخـرت دی

دا زمونږه و غمخور چې ښه او بد نه یـې خـبر کـړو
دا چې ښه نه کوو بـد کـړو دا زمـونږه حماقـت دی

*میاخېل* خو داسې وایـي د جهـان عظـیم ملـت تـه
چــې پورتــه مــې لیکلــی دا ســیرت د محمــد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مور د دنيـا يـو داسې ذات دی چې خطـر نـه مني
د خپـــل اولاد پـــه مينـــه سر د پاســـه سر نـــه منـــي

ښه يې پېرزو وي خپل اولاد ته تل راحت يې غـوا‌ړي
د خپل اولاد په حق کې مـور يـې بـد نظـر نـه مني

اولاد نـــادان وي د مـــور حـــق ادا کـــولی نشـــي
مور يـې بيـا وايـي دا جيګـر دی بـل جيګـر نـه مني

مـــور تکليفونـــه شـــوګيرې او بـــې خـــوبي تېـــروي
ځکـه همـدې لپـاره سـيال ځانتـه دلـبر نـه مني

*مياخېل* ته وس ورکړې ای ربه چې خدمت يې وکـړي
مور پـرې ده ګرانـه پـه زړګـي د چـا خنجـر نـه مني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په اولاد چې خفه کيږي هغه پلار دی
له هر چا چې ډېر درديږي هغه پلار دی

خواشينۍ کې هميشه درسره مل وي
چې په غم دې غمجن کيږي هغه پلار دی

ناروغۍ کې دې ملګری په درد نه خوري
چې په رنځ دې ډېر ځوريږي هغه پلار دی

په مشکل کې دې دوستان هم درنه تښتي
تل چې تا سره ودريږي هغه پلار دی

د *مياخېل* سر نه يې کم نه کړې ای ربه
ځنګدن کې چې ياديږي هغه پلار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زمونږ په چم کې ستا له وجې ده رڼا معلمه
ته خو ملت ته دې لرې د خير رضا معلمه

د ناپوهۍ تورې تيارې دې ملك كې ختمې كړلې
د ورانكارۍ پر ځاى دې راوړله ځلا معلمه

خلك دې وروزل د ملك د ابادۍ لپاره
ځكه راغلې ده وطن ته مې ښكلا معلمه

د بې علمۍ له وجې هرې خوا ته وله ژړا
ستا بركت دى چې اوس ټول دي په خندا معلمه

*مياخېل* ته تا په ښوونځي كې ښه او بد وښودل
اوس په هر لمونځ كې درته تل كوي دعا معلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مست یمه کومه له ډېر شوره شاعري
زیر شه دې بیتو ته خالص ګوره شاعري

دا خو استعداد دی چې الله راته راکړی دی
کومه له ډېر درد نه ای وروره شاعري

لیکلی مې غزل دی همیشه په خپله خوښه
په ما خو نده کړې چا په زوره شاعري

حقیقت غزل کې لیکمه که نه کوۍ باور
نو ورشه مطالعه کې زما نوره شاعري

خپلو وطنوالو ته *میاخېل* داسې ویلي دي
کومه په ډېر مینه زه تر ګوره شاعري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په تـا يـې ظلـم وکـړو دېـر يـې کړلـې وران وطنـه
په بل يې خرڅ کـړې پـه پيسـو ای د افغـان وطنـه

دا واکداران دې اوس د تـا پـه ځـای پيسـه پيـژني
ته زمونږ مور يـې دوي خـو نـه لـري ايمـان وطنـه

ستا په معدن او پـه ځنگـل بانـدې يـې چـور ولگـو
دوي دي بې دينه او بې شرمـه پـه مـا گـران وطنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي شرم نه لـري پـه تـا کـې يـې خـاپوړې کـړي
تـــاريخ گـــواه دی تـــا روزلي بـــاتوران وطنـــه

چې څوك د تا د بربادۍ هيلـې پـه زړه کـې لـري
هغـه خـاين دې گـور تـه ويســـي دا ارمـان وطنـه

مـه خفـه کېـږه رب بـه خپلـه خاينـان تبـاه کـړي
ای د شېرشــاه او د مــيرويس او احمــدخان وطنــه

په تا مئـين ول د تـا مينـه کـې يـې سر قربـان کـړ
اوس خو څوك نه وينم مئين د دوي په شان وطنـه

چې د خاين د شره خلاص شې ترقۍ تـه مـخ کـړې
*مياخېـل* پـه زړه بانـدې لـري دغـه ارمـان وطنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مونږه باور وکړو په تا خو ته ټک مار وختې
د پارلمان وکيله اوس راته هڅدار وختې

ږيره دې پرېښوده چې خلک درته رايه درکړي
ولس دې وغولو ويژدان کې دې مردار وختې
د کمپاين وخت کې دې د دروغو وعدې وکړې ډېرې
په چل دې وګټلې رايې ډېر مکار وختې
مونږه ويل چې ته به وکړې خپل ولس ته خدمت
خو چې خبر شو د انګرېز د غاړې هار وختې
ددې مظلوم ملت خو طمع تل له تا نه کېده
ته د انسان په رنګ کې خلکو ته خامار وختې

په خپل افغان ولس دې کړی بې حسابه ظلم
*مياخېل* به خوښ شي هغه وخت چې ته په دار وختې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

کــوي ظلمونــه پــه غريبــو هــيڅ ويــژدان نــه لــري
غير د پيسو نه پــه زړګــي دې هــيڅ ارمــان نــه لــري

مونږه پوهېږو چې پيسو بانــدې تــه حــق خرڅــوې
د ملک خاينه په اصليت کــې خــو ايمــان نــه لــري

ته د جهاد او د اسلام په نوم چوکۍ کې ناســت يــې
خو مونږه پوه يو چې په کور کې دې قرآن نه لــري

چې پيســې وګــورې بيــا ووژنــې مظلــوم ولــس مــې
د ځنــاور پــه ځــير تــه رحــم پــه انســان نــه لــري

*مياخېله* ويښ شه په هيواد کې دې دا حــال وګــوره
هغه معدن کې دې اوس لعــل د بدخشــان نــه لــري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په خپـل وطـن کـې رنګارنـګ راتـه کيسـې جـوړې دي
چې هر خوا ګورم په هر ځاى کـې ميخـانې جـوړې دي

غـــوارم ســـيالي مـــې برابـــره شي لـــه نـــورو سره
وسه مې نه کيـږي هـر خـوا تـه سرې لمبـې جـوړې دي

د وطـن خلـك مـې هـر خـوا تـه پـه بمـو آلـوزي
د شـــهيدانو لـــه سرو وينـــو نـــه چينـــې جـــوړې دي

ملـــك تـــه مـــې راشي د کومـــك پـــه بيلابېلـــو نومـــو
د هـــر کـــافر لـــه خـــوا نـــه ماتـــه دسيســـې جـــوړې دي

*مياخېل* هجـرت کـوي دا حـال د ملـك ليـدلى نـه شي
زړه يې تنګ شوى ورته ښار کې اوس فتنـې جـوړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

تــه علــم نــه لــرې پــه زور دې دا مقــام اخیســتی
ته خو جاسوس یــې د انگریــز نــه دې الهــام اخیســتی

د ملــک خاینــه عــدالت دې پــه پیســو خــرڅ کــړی
مانۍ دې جوړه کړه رشوت دې په هــر گــام اخیســتی

ته ډېــر حــریص یــې  دالله عــذاب نــه، نــه یــې خــبر
ظلم او زیاتی دې بې حسابه پــه خپــل قــام اخیســتی

ته خو غریب تــه لــه ډېــر کــبره تــل پــه ســپکه گــورې
پــه همــدې وجــه دې ازار د خپــل امــام اخیســتی

*میاخېل* مالداره دی خو ژوند کې خاکساري خوښــوي
چې یې په تن دی دا هر څیز یــې پــه لــیلام اخیســتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

جنگونــه بــس کــړئ افغانــانو چــې ډېــر وران یمــه زه
نــور مــې ابــاد کــړئ ستاســو کــور افغانســتان یمــه زه

ځوانــه مــا جــوړ کــه زحمــت وباســه لــږ کــار وکــړه
چــې د ښاېســته ، ښاېســته بــاغونو پــه ارمــان یمــه زه

په ماشومتوب کــې خــو هــر چــا راکــې خــاپوړې کــړي
ســترگو کــې نــه دي ورانــوي مــې دوي حــیران یمــه زه

چـــې پېســـې وگـــورې بمونـــه راکـــې الـــوزوي
دا خــبر نــه دي چــې د دوي د مــور پــه شــان یمــه زه

*میاخېل* به خوښ شي هغه وخت چــې پښــېمانه شي دوي
رب تـــه توبـــه وکـــړي او وواېـــي نـــادان یمـــه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ډېر خفه کېږمه وطن کې چې مې کونډې ګورم
زړه مې دردیږي د یتیم چې وچې شونډې ګورم

داسې کار نه ګورم چې زړه مې پرې تسل شي کله
د حکومت په ضد خو تل دا سیاسي غونډې ګورم

وطن کې سوله نشته بم خو مې باغونه وران کړه
څه بدبختي ده میوه دارې ونې شنډې ګورم

چې کډې بارې کړي له کلي نه د جنګ د لاسه
ښار ته روان وي روزمره زه خو یې منډې ګورم

زه *میاخېل* طمع لرم رب ته که نه ډېر خوږیږم
چې په خپل ملک کې د پردیو دا ملنډې ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

د بــې غيرتــه گومــان مــه کــوه کــه خــان نــه يمــه
وطــن فروشــه نــه يــم دومــره بــې ايمــان نــه يمــه

تــه مــې راغلــی يــې وطــن تــه د کومــك پــه بهانــه
پـــه تـــا پوهېږمـــه خـــبر يمـــه نـــادان نـــه يمـــه

ظاهر کې ښه خو په باطن دې هم ولس پوهيږي
که ته مې وويستلې ملك نه بيا به وران نه يمه

کــه دې د ظلــم مقابــل کــې زه شــهيد هــم شــمه
چې وطن جوړ شي خپل د وينو په تاوان نه يمه

زه *مياخېل* ولـيکم غـزل د خپـل ملـت لـه درده
چې حقيقت وايمه ښکنځه به پرې گران نه يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خوشحالي نشته وطن کې چې هر خوا وګـورو غـم دی
بمونــه انفجــار کــوي پــه ملــک کــې مــو مــاتم دی

ددې ځوان د جنازې نېټه چې کلي کــې اعـلان شـوه
په اردو کـې و سرتـيری شـهيد کـړی يـې پـه بـم دی

انفجار دی په هر ځای کې د پوښتنې يې څـوک نشـته
قيمــت خــو د افغــان د وينــې هــر چــا سره کـم دی

دشمنان خو مې معلوم دي که خدای وسه چېرته راکړه
بــدل بــه مــې بيــا اخلمــه خــوړلی مــې قســم دی

*مياخېـل* پـه خپـل غـزل کـې حقيقـت وايـي ملګـرو
هر څوک يـې درنـاوی کـوي کـمال يـې د قلـم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

چــې هــرې خواتــه وګــورم غمونــو کــې راګــير يــم
بيـا لمـونځ وي رانـه پـاتې پـه خوبونـو کـې راګـير يـم

ابادۍ ته مې د ملك خاينان نه پرېږدي هيڅ وخـت کـې
چــې وګورمــه شــا او خــوا بمونــو کــې راګــير يــم

چې ملك ته مې زه وګورمه احساس په ځـوان کـې نشـته
پـه زړه مـې دغـه داغ دی پـه دردونـو کـې راګـير يـم

زړګـی مـې راتـه وايـي چـې خـادم د خپـل ملـت شـه
په وس کـې مـې څـه نشـته پـه زخمونـو کـې راګـير يـم

*مياخېل* خو حېران پـاتې دی چـې څنګـه بـدل واخـلي
د زړه وينې مې جـوش کـوي سـوچونو کـې راګـير يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د امريکـــا سره د ســـولې يـــو تـــړون مـــو کـــړی
دا اوســـنۍ خـــبره نـــه ده پـــه پـــرون مـــو کـــړی

مشـــرانو فکـــر کـــاوه دې کـــې بـــه وي خيـــر زمـــونږه
چې عقل يې سر ته راغی پوه شول چې جنـون مـو کـړی

ددې ملـت هـر يـو خـاين مـونږ تـه معلـوم دی ربـه
ځکه خـبر يـو سـياسي غونـډو کـې ګـډون مـو کـړی

چې پـه دولـت کـې د شخصـــي ګټـو خـبرې وکـړې
بيا غلي ناست نه يو په وړاندې يـې پـاڅون مـو کـړی

*مياخېلـــه* وګـــوره خـــادم د ملـــت څـــه ويـــلي
تـل يـو سرلـوړي احـترام د خپـل قـانون مـو کـړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مینـــــه او محبـــــت د افغـــــان ورونـــــو غـــــواړم
رحـــــم او ګذشـــــت د ســــــختو زړونـــــو غـــــواړم

د خپل وطـن پـه هـر يـو بـوټي بانـدې رحـم وکـړی
زه د اللـــــه نــــه ابــــادي پــــه فريــــادونو غـــــواړم

زه غواړم ملك كـې مـې امنيـت او سـوله راشي مـدام
زه د افغــــان خوښــــي ليـــدل پــــه راوجونـــو غـــــواړم

چې وخت مې راغی روغ دې نه پرېږدم دشمنه لا خـو
بيـــا بـــه بـــدل د شـــهيدانو د سرونـــو غـــــواړم

د *میاخېل* وينـي درتـه جـوش كـوي او داسـې وايـي
اوس به خپل حق درنـه همداسـې پـه شـعرونو غـواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

رازه چې سوله وكـړو فايـده نشـته ده پـه جنـګ كـې
تعليم ته ځان تيـار كـړو مـزه نشـته ده پـه بنـګ كـې

تعليم ته چـې دې مـخ كـړه بيـا بـه علـم درتـه وايـي
زمـا درسره لـوز دى تـر آخـره دې يـم څنـګ كـې

چې ښاېسته غوندې مقام ته د تعليم په زور حاصل كړې
بيا ښكارې ته هر چاته د ميرويس نيكه پـه رنـګ كـې

د غازي امان په دور كې خلـك لاړل پـه بورسـو كـې
پراته و بـې تعليمـه خـو يـو دم راغلـل پـه ننـګ كـې

*مياخېل* يې په ارزښت بانـدې پـوه شـوى و لـه وختـه
نو ځكه يې صـفت وكـړو صـنفيانو تـه پـه زنـګ كـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

افغانــه ورشــه وران حــالات د خپــل ورور وگــوره
په خپل وطن کې زخمي زړونـه د هـر مـور وگـوره

دلته حزبونه دي جـوړ شـوي خپلـې گټـې گـوري
لږ ځان خبر که دغـه فـرق د سـپين او تـور وگـوره

اللــه ويــلي چــې دوزخ تــه بــه دوي ولېږمــه
ځان دې نـور سـم کـه ای ظالمـه درب زور وگـوره

د دغــې اور نــه بــه اويــا ځلــې دا گــرم وي تــل
که دوزخي شـې بيـا بـه پـوه شـې هغـه اور وگـوره

*مياخېل* ته غوږ شه نيک عمله شه جنت حاصـل کـه
که بد عمله وي بـد حـال دې بيـا پـه گـور وگـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

په خپل هيواد د تا د بم نور آزمايش نه منم
چې تا يې تل کړی کومک دغه داعش نه منم

که مور او پلار هم راته ووايي چې وران که وطن
اصلي پښتون يم دا بې ځايه خواهش نه منم

ته اوس لا څوک يې چې په ما باندې امرونه کوې
ملک نه مې وزه نور د تا دا فرمايش نه منم

زما وطن دې اشغال کړی د کومک په بهانه
نور زه د دروغو او د چل دا نمايش نه منم

*مياخېل* نن غږ کوي په خپلو هيوادوالو باندې
په خپل وطن د هلکانو آرايش نه منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځـان بـه راویښ کـړو پـه خپـل متـو بـه بـلا وتـړو
جنګ به نور بـس کـړو زنـدګي بـه پـه ښـکلا وتـړو

ژونـدون بـه وکـړو خوشـحالۍ او پـه یـووالي سره
چـې پـه وطـن د تورتمـو هـره کـلا وتـړو

وطن ته کـار وکـړو او سـیال یـې کـړو د نـورو سره
پـه دغـه کـار بـه د مظلـوم د خـولې ژړا وتـړو

د خپـل وطـن د پرمختـګ او آبـادۍ لپـاره
تـول بـه پـه ګـډه سره خپلې،خپلـې مـلا وتـړو

چې نظـام جـوړ او نفـاق خـتم شـولو ای *میاخېلـه*
په خپـل هیـواد کـې بـه بیـا مخـه ددې غـلا وتـړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

زه هميشه د خپل د خوږ زړګـي زخمـو کـې ګـير يـم
چې کنډوالـه دي هغـې لارو او کوڅـو کـې ګـير يـم

په ځلور خواوو کـې پراتـه دي راتـه سـخت دشـمنان
پرمختګ نه شم کـوی زه خـو پـه اغـزو کـې ګـير يـم

زما په ځوان کـې احسـاس نشـته دی ګنـاه کـوي تـل
څنګـه بـه وکـړم عـدالت پـه رشـوتو کـې ګـير يـم

د جهاد نوم بانـدې اوس دلتـه قتـل عـام کـوي دوي
دوي خپل هدف لري د بل چا په فتنـو کـې ګـير يـم

*مياخېل* خو کړی شاعري چې خپل ولس بېـدار کـړي
هـر چـا تـه وايـي چـې لـه درده غزلـو کـې ګـير يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

هر خوا کې بم آلوزي مورې تر بازاره نه ځم
زه خو ډارېږمه چې مړ نه شم تر ښاره نه ځم

په ښار کې زړه زما درزيږي د بمو د لاسه
له ډېرې وېرې مې زړګی وي بې قراره نه ځم

زه خو خبر يمه چې آلوزي بمونه ښار کې
همدې لپاره به هيڅ وخت په هغه لاره نه ځم

اوس يې جومات او هديرو کې هم بمونه ايښي
زه مې د نيا او د بابا قبر ته پلاره نه ځم

*مياخېله* واوره زما ژوند يې په پيسو خرڅ کړی
لېونی نه يمه په خپله خو تر داره نه ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راتــه خاینــه اوس د کــوم عمــل ســزا راکــوې
نـه یمـه پـوی چـې تـه سـزا د کـوم ګناه راکـوې

زمـا ځوانـان دې شـهیدان کـړل پـه بمونـو بانـدې
مظلــوم افغــان یمــه تــر کلــه بــه جــزا راکــوې

ټوپک بیا راکړې چې زه جنګ ته بدلـه دې واخلـه
دا خو په دې مانـا چـې لاس کـې مـې بـلا راکـوې

زه نــور د جنــګ او د بمــو نــه ســتړی شــوی یمــه
جنګ به نور ونکړم که لاس کـې مـې دنیـا راکـوې

*میاخېـل* پـوهیږي چـې تـه نلـرې د خـیر ارادې
ځکه خوښي کـې مـې هـر وختـې تـه ژړا راکـوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

یمــه افغــان د خوشــحالیو نــه محــروم پــاتې یــم
پلار مې شهید شو د مور غېږه کې ماشــوم پــاتې یــم

ډېر یم بې وسه ځکه حق مې د چا نــه شــم غوښــتی
د پیدا ینبت نه مــې تــر اوســه زه معصــوم پــاتې یــم

هر څوک مې وژني د چا زړونه په ما درد نــه کــوي
زه خو هک پک ورته حیران لکــه د بــوم پــاتې یــم

د دومــره ســختو سره بیــا هــم نــه مــنم اســتعمار
تــاریخ مــې ولولــه هــر چــا تــه زه معلــوم پــاتې یــم

د غریبــۍ او نــادارۍ پــه دې حــالاتو کــې هــم
*میاخېل* سخي شو زه تر اوسه پورې شــوم پــاتې یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ***غزل***

د خپل ملت پــه خــاطر رب تــه مــې ژړا کــې وايــم
چې ســوله راشي دا خــبره پــه هــر دعــا کــې وايــم

خوشــحالي نشــته پـه وطــن د زړه نـه ، نـه خاندمـه
زه لـه ډېـر درده تـل خــبرې پـه خنـدا کــې وايــم

رحم دې ونکړو  پـه مـا ډېـر دې کـړم وران خاينـه
د تــا ظلــم بــه کيســه هغــې دنيــا کــې وايــم

تېـــروم هـــر ډول ســـختي غلامـــي نـــه منمـــه
دغـه خــبره مــې بچــو تــه هــر بيگــاه کــې وايــم

خپـل وطنوالـو تـه همـيش ***مياخېـل*** ويـلي داسـې
ددې ملــت پــه درد غزلــې پــه ښــکلا کــې وايــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ټوپک به کېدم نور به ځان ته یو بل یار لټوم
چې پکې خېر وي زمونږ نور به هغه لار لټوم

جنګ مې په خپله و جوړ کړی څه فایده یې وکړه
شوم پښېمیان اوس سرګردان د امن ښار لټوم

په جنګ پیدا په جنګ کې لوی په جنګ کې زوړ شولمه
ډېر یم خفه ځان ته د خیر یو کاروبار لټوم

جنګ به نور ونکړم په ژوند کې نور تعلیم کومه
دا اراده لرم قلم په زور به کار لټوم

*میاخېله* پوه شوم چې په ژوند کې تباه کیږو مونږه
نور به په سوله کې د خوږ ژوند قرار لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ***غزل***

**ژونـد مـې تیریـږي د وطـن د ترقـۍ پـه طمـع**
**د ماشـــومتوبه یمـــه زه د ابـــادۍ پـــه طمـــع**

**دې خاینـانو تـه مـې وینـي د بـدن کـوي جـوش**
**یمه ماشوم ځکه خو ناست یـم د ځـوانۍ پـه طمـع**

**کـوم تعلـیم چـې زه حاصـل کړمـه ښاېسـته وظیفـه**
**ارمان مې خاورې شي شهید شم د چوکۍ پـه طمـع**

**نور به تـر کومـه دا حـالات وي پـه وطـن کـې زمـا**
**ځواني مې تیره شوه شوم زوړ د خوشالۍ پـه طمـع**

**زه یـــې لـــرم داســـې امیـــد د جوړیـــدو *میاخېلـــه***
**لکـه فرهـاد چـې ولـو ناسـت د شـیرنۍ پـه طمـع**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

دغــه وطــن خــو زمــا كــور دی لــه دې كــوره وزه
درتـــه بـــه يـــې وګرځـــوم اور لـــه دغـــې اوره وزه

په دې وطن کې دې راتلـو سره شرونـه جـوړ کـړه
مـــا خـــو بللـــی نـــه يـــې راغللـــې پـــه زوره وزه

ښه ورځ بـه ونـه ګـورې مـا نـه زه هـم يمـه افغـان
دغـــه خـــبره بـــه همـــيش كـــوم تـــر ګـــوره وزه

چې دې پرون په هغه بم کې زما ځـوان شـهيد کـه
ډېـــر يـــې ظـــالم د هغـــې ښـــځه وه سر تـــوره وزه

له ډېره درده *مياخېل* داسې وويـل سـتا پـه خـلاف
جهـــاد تـــه ځـــم شـــاعري نـــه كومـــه نـــوره وزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په خپل وطن کې د مشرانو خيانتونه وينم
چې ول آباد اوس خو ويجاړ هغه ښارونه وينم

هيڅ وطنوال مې خوشحالي نه لري خپل وطن کې
ځکه چې هرې خواته ګورمه دردونه وينم

هغوی لا څه کوې چې ځان ته کله فکر وکړم
بيا مې بدن کې د خپل خوږ زړګي زخمونه وينم

داسې کار نه ګورم چې راشي زما خوله کې خندا
په هرې ورځ د خوشحالۍ په ځای غمونه وينم

اوس مې وطن دی د بمونو يو غټ کور *مياخېله*
په هرې خوا د بې ګناه خلکو مرګونه وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

وطنـــه ســـتا د جوړېـــدو خـــو زه ارمـــان لرمـــه
د آبـــادۍ لپـــاره ښـــه ښاېســـته ځوانـــان لرمـــه

مونږه خاپوړې کړي تا کې ته خـو مـور يـې زمـونږ
لـــه برکتـــه دې يـــو نـــوم زه د افغـــان لرمـــه

لکه د هر چا په شان تـه پـه مـونږه حـق لـرې ډېـر
خيانـــت بـــه ونکـــړم لـــه تـــا سره ايمـــان لرمـــه

د تـا حقوقـو بانـدې پـوه يمـه لـه وختـې نـه زه
پاک مسـلمان يمـه پـه کـور کـې مـې قـرآن لرمـه

مونږ خو نړۍ سره په هر څه کې يو سـيال *مياخېلـه*
آن چې په غرونـو کـې مـې لعـل د بدخشـان لرمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ځورېږم د تعليم پر ځای وطـن کـې مـې نـن جنـګ دی
هر ځای ته چې اوس ګورم د شـهيد پـه وينـو رنـګ دی

غريـــب و کـــه مالـــداره دې حـــالاتو کـــې تبـــاه شـــو
د جنګ د لاسه هر ځای کـې اوس خـان زمـا ملنـګ دی

بمونـــه پـــه هـــر خـــوا کـــې انفجـــارکوي څـــه وکـــړم
فقــط چـــې شــهادت د دوي د پــلار پــه مــا قلنــګ دی

چې ملک ته سوله راشي او بيا خـلاص شـم لـه دې حالـه
په کار راته ميرويس او احمدخان غونـدې يـو ننـګ دی

مـــلا چـــې د جهـــاد راتـــه تبليـــغ کـــوو *مياخېلـــه*
خپل رب يې دی هېر کړی اخته شوی اوس په بنـګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ***غزل***

زه خــو د کفــر خـــلاف ځــان نــه القاعــده جــوړوم
همـــدې کفــارو تـــه وطـــن کـــې خطـــره جـــوړوم

ملــک تــه مــې راغلــې د کومــک پــه بېلابېلــو نومــو
ځان دې اوس ټينګ کـه زه خـو تـا تـه دسيسـه جـوړوم

ظاهر کې دوست خو په باطن کې غټ دشمن يـې زمـونږ
پــه خپلــه خــاوره کــې بــه تــا تــه هــديره جـــوړوم

تــه خــو کوشــش کــوې چــې ومــې ويشــې ځــو تقســيمه
د تــا د کــار پــه خـــلاف تـــل لويــه جرګــه جـــوړوم

***مياخېلــه*** ليکــې د ملـــت پـــه درد کـــې تـــل غزلـــې
کــه دې وي خوښــه لــه شــعرو دې کتابچــه جـــوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ټوپـــك را اخلـــو د تعلـــيم سره بېلتـــون كـــوو مـــونږ
د بـــې عقلـــۍ او نـــاپوهۍ سره ژونـــدون كـــوو مـــونږ

پـه دې خـو پـوی نـه يـو چـې علـم د ملـت رڼـا ده
په بدبختۍ او ځان ځانۍ كې اوس وېشـون كـوو مـونږ

اردو طالـــــــب ولي طالـــــــب زمـــــــا اردو وولي
دغـــه كارونـــه د پرديـــو پـــه لمســـون كـــوو مـــونږ

كه د ټوپك پر ځای قلم ته مـونږ ارزښـت وركـړو ډېـر
بيـا بـه پـه كـلي كـې ارام سره سـكون كـوو مـونږ

*مياخېل* ټينگار كوي چې علم ضروري دی ډېـر زيـات
همـــدې لپـــاره د قلـــم سره تـــړون كـــوو مـــونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

چې ملک مې وکړي ترقي داسې احساس ووينم
کاش دا خبره د هر ځوان په خوي خواص ووينم

چې په ظاهر کې ابادي او په باطن کې مرداري خوښوي
ستا د دوکو او د خيانت به بيا براس ووينم

کار به شروع کړي په معدن کې د خدمت په نامه
بيا به د خرڅ لپاره لاس کې يې الماس ووينم

ته غټ خاين يې خادم نه يې د ملت مجرمه
زړه به مې يخ شي چې د جرم دې قصاص ووينم

ای بې غيرته ستا په حق کې *مياخېل* داسې وايي
ډېر به شم خوښ چې نوک ويستل دې په پلاس ووينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه د پخـــوا پـــه شـــان مـــزه پـــه مـــازیگر نـــه ویـــنم
د کلي نجـوني چـې ورتلـې هغـه گـودر نـه ویـنم

چـــې پښـــتنو یـــو بـــل تـــه لـــرې نـــه سـلام کولـــو
اوس هغـــه مینـــه او محبـــت پـــه لـــر او بـــر نـــه ویـــنم

دلتـه خـو سـوله نشـته بـم پـه هـرې خـوا آلـوزي
ځکه ځوانان مې پـه بـاغو کـې پـه چکـر نـه ویـنم

کـه خـدای دعـا زمـونږ قبولـه کـړه او سـوله راغلـه
بیا به یم هـر ځـای تـه روان ځکـه خطـر نـه ویـنم

*میاخېل* خو وایي چې کافر هم د انسان خېرخـواه وي
د تـــل لپـــاره ورتـــه هـــیڅ پـــه بـــد نظـــر نـــه ویـــنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ای افغان وروره په خپل منځ کې دښــمني مــه کــوه
د احمدشـــــاه بابـــا لمســـیه نـــاپوهي مـــه کـــوه

زمونږ وطن کې خــو سر لــوړي افغانــان تېــر شــوي
تــه د هغــو پــه څېــر شــه وروره خــرابي مــه کــوه

نړۍ ته وښـایه چــې تــه هــم لــه هغــو کــم نــه یــې
ملك تــه صـادق اوســه سر ټېټــې زنــدګي مــه کــوه

که کوم ریس یې ته نو حق بیا تل حقــدار تــه ورکــه
که دا غریــب وي یــا مالــدار بــې انصــافي مــه کــوه

*میاخېل* وینا کوي پــه شــعر کــې مســلمان ملــت تــه
که ته جنت غواړې ای ځوانــه بــې دینــي مــه کــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سخته زغملی شمه دومره نازدانه نه یمه
ځان درنه ګڼمه تاریخ کې افسانه نه یمه

له ماشومتوبه د جهاد په لوري ووتلم
زه خو ویده کله د مور په زنګانه نه یمه

د ازادۍ لپاره مونږه شهیدان ورکړي
کم عقله پوه شه چې شوقي د مېخانه نه یمه

په دې نړۍ د شجاعت زمونږ پوښتنه وکړۍ
تاریخ مې وایي زه د دروغو خزانه نه یمه

*میاخېل* تل ویاړي په جهاد باندې او داسې وایي
همدغه بس دی چې ذلیل په ژوندانه نه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

دې خاينـــانو تـــه کينـــه د زړه پـــه تـــا ســـاتمه
اوس خو زور نه لرم زړګی مې ورتـه غـل ســاتمه

چې برابر شو کلـه زور مـې بيـا يـې نـه پرېږدمـه
په مقابل کې يـې ودرېـږم خپـل ځنګـل ســاتمه

کــه پــه لانجــه شــو د خــبرې د اثبــات لپــاره
په حافظـه کـې مـې همـيش ورتـه متـل ســاتمه

د خاينـــانو ملګرتيـــا راتـــه ارزښـــت نـــه لـــري
نو ځکه ځان مـې د ښـو خلکـو سره مـل ســاتمه

*مياخېل* رښتيا ليکي شعرو کې او تل داسې وايـي
زه خو صادق يمه له دروغـو خپـل غـزل ســاتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خوند کوي چې کلي کې مې غـم نـه وي
خوښ به شمه ښار کې مې چې بم نـه وي

ناست به وي دوستان زما په خوا کـې تـل
ډېر به شـم خوشـحاله چــې مـاتم نـه وي

څوك چې د خېر فکر لري دې ملك تـه
دى دې بيـا زمـونږ لـه سره کـم نـه وي

خېـر دى کـه خـبرو کـې غلـط شـومه
کلـه ، کلـه فکـر د چـا سـم نـه وي

ډېـر وربانــدې وځــورېږم زه *مياخېـل*
چرتــه چــې بيـا قــدر د قلــم نـه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ټوپـک لرمـه پـه شـاجور کـې يـې مرمـۍ نـه لـرم
چې درد مې ښه کړي په وطن اصلي ګولۍ نـه لـرم

زه خــو محتاجــه يمــه هــر چاتــه ددې لــه وجــې
يمه سـپين ږيـری زه خـو وس د مـزدورۍ نـه لـرم

چې څوک مې قدر او عزت نه کوي خپل وطن کې
دا يـې علـت دی چـې غريـب يمـه مـاڼۍ نـه لـرم

زمـا بچــي دي وږي تــږي پــه وطــن کــې ربــه
نــور پــه مــونږ رحـم وکـړه وســه د زارۍ نــه لـرم

*مياخېلــه* وګــوره خيانــت کــوي زمــونږ رهــبران
ځکه خوشحال يم چې دولت کې کوم چوکۍ نـه لـرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



### *غزل*

هغــه ســړی د کــور ســامان اوس پــه بــازار خرڅــوي
خو په اصليت کې خپل ايمـان دا پـه کفـار خرڅـوي

نيت يې دی کړی چې وطن پريږدي خارج ته لاړ شي
د دغــه تــګ لپــاره ځمکــه د خپــل پــلار خرڅــوي

کــه ددې ځمکــې پــه پيســو بانــدې يــې تــګ ونشــو
دا بــې غېــرت بــه د مېــرمن د غــاړې هــار خرڅــوي

بيــا هميشــه يــې د وطــن پــه بيلتــون زړه ځــوريږي
دوي خو په خپله د خپل خــوږ زړګــي قــرار خرڅــوي

*مياخېل* مين په خپـل وطـن دی او بيـا داسـې وايـي
هلته خو نجونې پـه ځوانـانو خپـل سـينګار خرڅـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

خوشــاله تلــی و اوس بېرتــه پــه خفگــان راغلــی
هغــه چــې ديــن نــه و منكــر اوس پــه آذان راغلــی

په خپلو كـړو، شـو پښـېمان توبـه يـې رب تـه وكـړه
د پــلار يــې نــه منلــه اوس ورتــه ارمــان راغلــی

ټوپک يې كېښودو پـه ځمكـه راغـی سـوله يـې وكـړه
په قدر يې پـوه شـو ځكـه كـلي تـه دا ځـوان راغلـی

د دغــه ځــوان نــه عــبرت واخلــۍ او قــانون ومنــۍ
تاســو د لاســه مــې وطــن كــې دا خــزان راغلــی

*مياخېـل* يـې قـدر پـه ډېـر مينـه هميشـه كـړی دی
چې يې حجرې ته كوم غريب او كه كوم خـان راغلـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

لږ ځان را ويښ کړه د وطن خـراب حـالات وګــوره
ماديـات مهـم نـه دي د ژونـد لـږ معنويـات وګــوره

ډېر زيات بې عقله يې له هيڅ شي نه خبر نه يې تــه
ځان دې کړه پوي د ملنګ جان هغه کليات وګــوره

لس ګون به نه لرې د ورځې به د سـلو ډېـر خــورې
ځان دې کنټرول که دا بــې ځايــه خرابـات وګــوره

په هر نيک کار کې دې دعا د مور او پلار نــه واخلــه
بيــا دې پـــه کـــار کـــې د دعـــا دا برکـــات وګـــوره

*مياخېل* خو ليکي حقيقت په خپل شعرونو کـې تـل
کـــه بـــاور نـــه کـــوې نـــو ورشـــه غزليـــات وګـــوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

اوس که ورځې هغه ډالـر پـه موسسـو کـې نشـته
صـادق سـړی خـو د دولـت پـه ادارو کـې نشـته

مالــدار نــازيږي چـې ډالــر او فرونــر لرمــه
خلک پوه شوي دي  چې قدر په پيسـو کـې نشـته

د انقلاب خراب حالات خـو مـو مـاغزه خـراب کـړه
دا يـې علـت دی ښـه خـبره مـو ذهنـو کـې نشـته

که بد اخلاقـه يـې قـرآن سره دې ځـان اشـنا کـړه
ښاېسـته خـبرې خـو د مينـې کتـابو کـې نشـته

اوس شاعران هم درباريان دي د هر چا صفت کړي
*مياخېل* بيـا وايـي چـاپلوسي مـې غزلـو کـې نشـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

دولت مې اسلامي دی په دې کې خـو شـک نشـته
هر ځوان مې خطري دی په دې کې خو شک نشته

دنيـا هـم راتـه ګـوري خـو څـه کـولای نـه شي
دا کار د پنجابي دی پـه دې کـې خـو شـک نشـته

هر څوک په کې خبرې کړي د خپل فايـدې لپـاره
دا خوي د مسلي دی په دې کـې خـو شـک نشـته

اسـلام تـه کـه وګـورو مـونږ ټـول يـو سره ورونـه
پلان خو د غربي دی په دې کـې خـو شـک نشـته

*مياخېل* باندې يې بوي هم لکه عطـر غونـدې لګـي
دا دود د سپيلني دی په دې کـې خـو شـک نشـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

د ښــه او بــد تــوپير كــولى شــم شــعور لرمــه
ډوډۍ پــه كــور كــې پخــوم ځكــه تنــور لرمــه

خان تيار خور وي د هر كار نه ځان بــې غمــه گڼــي
پــه مــال نــازيږي داســې وايــي چــې مــزدور لرمــه

د تــا حيــا ده پــه مــا گرانــه زه بــې شرمــه نــه يــم
زه افغــانــي رســـم او رواج دود او دســـتور لرمـــه

كه يم بــې وزلــه تــه پــه سپكه راتــه مــه كــږه نظــر
زه پـــه ټولنـــه كـــې عـــزت لـــرم كلتـــور لرمـــه

*مياخېل* دنيــا تــه خپــل غــزل كــې دا خــبره كــوي
د احمدخان او ميرويس خــان غونــدې بــاتور لرمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

جانانه چې راځمه زه هر وخت ستا په کوڅه کې
جومات ته ننوزم خدای ته کېنم په توبه کې

چې د قبر عذاب ياد شي بيا پښې مې لرزه شي
خدای ته له ډېر وېرې بيا پرېوځم سجده کې

چې سخته پا ما راشي او د حل لاره يې نه وي
نفلونه بيا شروع کړمه تنها زه په کوټه کې

چې ځان ته فکر وکړم وايم ډېر زه ګنهګار يم
په ياد مې شي بيا وکړم تهجد په نيمه شپه کې

*مياخېل* ته بخشش وکړه ستا د رحم دربار لوی دی
امتحان ترېنه ته واخله په دې آخري وعده کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځوانه آباد دې کړه خپـل ښـار لکـه د روم غونـدې
لاس دې نیـولی دی تـر زنـې لکـه بـوم غونـدې

ته باید کار وکړې چې ملك دې ترقۍ ته مخ کـړي
ته کرار ناست یـې لکـه خســر کـره د زوم غونـدې

تـه بایـد ملـك کـې دې مثبتـې کارنـامې ولـرې
چې نوم دې وشي د میرویس نیکـه د نـوم غونـدې

کـه کـار ونکـړې او د بـل پـه اوږو بـار شـولې تـه
داسې بیا ښکاري چې یې پروت کاسه کې موم غونـدې

چې جیـب دې ډك وي د پیسـو نـه او مصرف نـه
کـــــــــــــــــــوې
*میاخېل* بیا وایي دغه ځوان دی ډېر د شوم غونـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بـې ځایـه دې وخـت مـه تېـروه ولولـه کتـاب
چـې ولـرې اللـه سره بناپسـته سـوال او جـواب

مرګ نیتـه معلومـه نـه ده دیـن نـه ځـان خـبر کـه
بیا هم وخت درنه تېر نـه دی توبـه وکـړه لـه شراب

په مخ به دې نور وي چـې ۵ وختـه لمـونځ وکـړې
بې دینه مسـلمان یـې ځکـه رنـګ دې دی خـراب

په قرآن خو عمل نه کـوې خطـا بـه شـې دوزخ تـه
نېـک عملـه شـه جاهلـه ژونـد تېریـږي پـه شـتاب

چې دین دې قایم کړی وي پـه حقـه لار روان یـې
*میاخېل* باندې تل ګران یې بیا پـه شـانتې د ګـلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

قـــدر دې نشـــته پـــه ټولنـــه شرابي يـــې ځکـــه
چې مور او پلار درته خپـرا کـړي آزاري يـې ځکـه

چې ښه خبرې هـم پـه تـا بانـدې تـل بـدې لګـي
ملامت نه يې ماشومتوب نـه تـه چـرسي يـې ځکـه

پـــه کليوالـــو بانـــدې ځکـــه تـــه ملنـــدې وهـــې
ځان ته غټ فکر کوې ته خو اوس ښاري يـې ځکـه

بـد عمـل مـه کـوه چـې ښـه درسره نـه ښـکاريږي
دا يې علـت دی چـې لمسـی د ابـدالي يـې ځکـه

*مياخېل* خو وخـت تېـروي تـل د نيـک عملـو سره
زه خـو وخـت نـه لرمـه تاتـه تـه بنګـي يـې ځکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مالدار خوشحاله دی چې ښه فرېمانه مال لرمه
خلکو ته وايي چې غریب باندې تل خيال لرمه

زما غريب خپلو بچو لپاره غواړي خيرات
دا څنګه خيال دی زه له تا نه دغه سوال لرمه

څومره بخيل يې په هيڅ چا دې زړګی درد نه کوي
يتيم خو وايي چې کومک وکړه اوبال لرمه

زکات خو فرض دی په دوي باندې دوي يې نه ورکوي
هر يو مالدار سره په دې باندې جنجال لرمه

*مياخېل* خو وايي غريبی کې دا يخني راغلله
که کمپل نه لرم نو درې ګزه دستمال لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

پرې نه شرمېږمه هـر ځـای کـې غريبـي مـې کـړې
چې حـلال وګـټم هـر چېرتـه مـزدوري مـې کـړې

چې چېرتـه لاړ شـمه د کـار لپـاره رب مـې ګـوري
دروغ زه نه وايمه کار کـې ښـه خـواري مـې کـړې

په غريبۍ کې هم سر ټيټـې نـه يـم هـيڅ چاتـه زه
خپل او پردو سره هر کار کې ښه ځواني مـې کـړې

چې کوم مشکل په ما راغلی د خپل رب دربـار کـې
سجده مې اېښې ده او ډېر عذر او زاري مـې کـړې

ددې کـارونو تـر څنـګ يـو خـبره بلـه کـوم
*مياخېـل* ويلـې خونـدوره شـاعري مـې کـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

خپلــه يـــې ګمــراه نصــيختونه ماتـــه مـــه کـــوه
غلـــی شـــه چاپلوســـه صـــفتونه ماتـــه مـــه کـــوه

نـــه مـــنم خـــبرې دې پـــوهېږم دروجـــن يـــې تـــه
نـــه ډارېـــږم تـــا نـــه نـــور ګواښـــونه ماتـــه مـــه کـــوه

غلام خـــو دې څـــه نـــه يمـــه چـــې ومـــنم امرونـــه دې
نـــه درزم پـــه خولـــه دې اوزونـــه ماتـــه مـــه کـــوه

زه دې استعمال کړمه کـــه ګـــير تـــه مـــې تـــه راغللـــې
ولم دې پـــه سر بيـــا ډېـــر عذرونـــه ماتـــه مـــه کـــوه

شکمن وم پرې *مياخېل* چې دا خـــاين ددې ملـــت دی
اوس خـــو بـــاوري شـــوم ســـترګکونه ماتـــه مـــه کـــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې عمل کې دې اخلاص وي عبادت کې حسابيږي
چې خبرې پسې شا کوې غيبت کې حسابيږي

د غريب او مالدار شخړه کې چې حق فيصله وکړې
نيکي به الله درکړي عدالت کې حسابيږي

چې ښه چا سره وکړې د الله رضا لپاره
چې مطلب دې پکې نه وي صداقت کې حسابيږي

الله ته توبه وباسه چې نه ترينه خلاصيږي
يوه يوه گناه به دې قيامت کې حسابيږي

*مياخېل* په ملگرتيا کې ډېر صادق دی ای ملگرو
که څوک ورسره چل کوي خيانت کې حسابيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په قــدر بــه یــې پــوی شــې تــه خپلــه کلــه پــلار شــې
ارمان به د خـدمت وکـړې چـې قـبر تـه گـوزار شـې

چې پلار ته دوکه ورکـړې او پېسـې ترېنـه بیـا واخلـې
قـمار تــه بـه دې زړه کیـږي روان بـه پـه بـازار شـې

د پلار حلال پېسې به دې حرام کار کې مصـرف کـړې
سگرټ او چرس بـه ووهـې بیـا لـږ شـانتې خـمار شـې

حرام کار پسې گرځـې خـو افسـوس بـه وکـړې هلتـه
چې پلار دې شي وفـات او بیـا تـه پـاتې د قـمار شـې

*میاخیـــل* درتـــه خبـــرا کـــوي لوچـــك او لنـــډغره
چې مړ شې زر تر زره د خدای قهـر کـې گرفتـار شـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

يوه ورځ به ټول مړه کېږو دنيا نه کړي ګذاره
دا راغلي د قرآن په څلورمه سپاره

چې رب زمونږ قاضي دى په ورځې د قيامت کې
همدا د مسلمان ده بهترينه خاطره

ددې دنيا تپوس به په په هغې دنيا کې کيږي
رازه چې ښه اعمال وکړو زما ده مفکوره

په اسلام باندې عمل وکړو او ويې رسو بل ته
خداى به وځلوي مونږه بيا په شان د ستاره

په جنګ کې ګټه نشته ده او سوله خير خواهي ده
راځه چې سوله وکړو د *مياخېل* ده مشوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

اى مسلمانه زه له تا نه يوه غوښتنه كوم
عمل دې نېک كړه دا د زړه درته بلنه كوم

الله خو وايي چې توبه وباسه بدو نه دې
زه مهربانه يم بنده ته مې بښنه كوم

ته يې غافل چې كله راغللې زما حضور ته
د ښه او بدو عملو دې بيا پوښتنه كوم

ورته به وركړمه جنت چې نېک عمله وي څوک
بل چې خپل دين يې قايم كړى وي دا ژمنه كوم

دا آخرت په ورځ خو خپله ته قاضي يې ربه
*مياخېل* خو وايي په همدې درنه مننه كوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

امتـــي د محمـــد یـــې ګـــوره څـــومره بختـــور یـــې
د اللـــه مهربـــاني ده آخـــرت کـــې معتـــبر یـــې

فیصله زمونږ د رب ده څوك غریب څوك بـه مالـدار وي
خفـه نـه شـي مسـلمانه د دیـن نـزد کـې برابـر یـې

په فساد کې ته اختـه یـې پـه رشـوت هـم نـه مړیږې
د خیر کار وکړه نور بس دی د مظلوم ملـت رهـبر یـې

امتحان کې ته راګیر یې قومندانـه ځـان دې سـم کـه
په هر چا کوې ظلمونه د خدای قهر نـه بـې خـبر یـې

*میاخېل* درته نصیحت کوي چې رب درنـه راځـي کـه
یوه ورځ به ته مـړ کیـږې کـه هـر څـومره زورور یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ای مسلمانه ځان اصلاح که شیطاني مه کوه
تنها ځان مه ګوره هر کار کې بدنیتي مه کوه

د منافق سړي عادت وي همیشه لپاره
په وعده نه وي ولاړ ته خو بې لوزي مه کوه

دا هم ګناه ده چې ته وکړې په هر کار کې اسراف
دین مو اسانه دی په ځان ډېره سختي مه کوه

که غواړې ولرې ټولنه کې په هر چا قدر
ته د مشرانو مخ کې نور بې ادبي مه کوه

*میاخېل* ته غوږ شه که ته غواړې چې ارامه اوسې
دین دې قایم که نور په ژوند کې غلطي مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

له خـدای نـه ډار لرمـه زه پـه چـا تهمـت نـه کـوم
زه خو هـر چاتـه مـې کيسـې د صـداقت نـه کـوم

کــه نفــس لرمــه نــو ويــژدان ورسره خــواکې لــرم
همــدې لپــاره پــه ظــالم هــيڅ شــفقت نــه کــوم

د خــدای رضـا لپـاره هـر وخــت کــې خــبره کــوم
د چاپلوســـۍ لپـــاره هـــيڅ د چـــا صـــفت نـــه کـــوم

په دې هم پوه شۍ چې مې ژوند کې دا عادت لرمه
تل مې خبرې د خپـل پـوهې او حمکـت نـه کـوم

غم دې *مياخېل* سره شريک که ځکـه داسـې وايـي
د راز خــبرو کــې هــيڅ کلــه خيانــت نــه کــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د دنيـا غمونــه هېــر کــړي او آرام ســړی ويــده شي
او ځان ترينه بــې غمــه کــړي مــدام ســړی ويــده شي

بې خوبه به وي هر سړی تــر نيمــو شــپو چــې کينــي
عصاب به يــې  آرام وي چــې ماښــام ســړی ويــده شي

گــذاره کوټــه کــې نــه کيــږي د دوبي پــه موســم کــې
ډېر خوند کوي چې اوړي کې په بام ســړی ويــده شي

ځوريږي به په زړه کې مجبوريــت نــه بــه يــې زغمــي
د مينــې پــه کيســه کــې چــې ناکــام ســړی ويــده شي

د *مياخېل* په شمول هر څوک ورته دعا کوي په لمونځ کې
چې قــبر کــې همــېش پــه ننــگ او نــام ســړی ويــده شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

ښاپسته خبرې اورم روزمره زه په پوهنتون کې
چې وزګار شمه له کاره بيا خو ناست يم کتابتون کې

د علمه چې خبر شوم برکت د مطالعې و
دې خلکو خو چټې ويل فايده ده درملتون کې

د اسلام پينځه بنا خو ماشومتوب کې راته ياد و
ښودلي و استاد راته د وخته وړکتون کې

کوچنيوالي نه مې خوښ و د مشرانو مجلسونه
همېش به پکې ناست وم ښه عادت مې و ژوندون کې

همدغه مې خويونه و که ډېر معلومات غواړې
*مياخېل* کره بيا لاړ شه درته ناست دی مېلمستون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لړم چیچلی یې لږ صبر شه اوس میا به راوړم
که د میا دم کې څه تاثیر نه و ملا به راوړم

رنګ دې خراب شو ورو په ورو د لړم ټک باندې
نغدې خو نه لرم علاج ته دې د غلا به راوړم

حقیقي غل نه یم حالاتو مجبور کړی یمه
که غلا کې ګیر شومه په ځان باندې بلا به راوړم

که د خدای رحم وشو خلاص شومه له دې بلا نه
مور خو دې نه لري دنیا نه دې طلا به راوړم

*میاخېله* وګوره یو پلار خپل زوی ته څه نه کوي
که چېرته ښه شولې خیرات کې دې بیا غوا به راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

نازونــه مــه کــوه جانانــه چــې بيــا نــه بــه يمــه
مانښام کې مه راځه وختــي راځــه ويــده بــه يمــه

چــې کلــه راشــې او زمــا سره ديــدار وکــړې تــه
په هغه ورځ له نــورو ورځــو نــه بيــا ښــه بــه يمــه

چې راته راکړې ته وعدې د خپل راتلو دې کلــه
بيا خــو حتمــي پــه انتظــار کــې د کاتــه بــه يمــه

راباندې مه کــوه ظلمونــه پــه مــا ډېــر ځــوريږي
ته خو خبر نه يــې ای مــورې د چــا زړه بــه يمــه

رابانــدې وکــړل ډېــر کبرونــه او نازونــه *مياخېــل*
ارمان به وکړي وخت به تېر وي بيا واده بــه يمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راتــه ډېـر مــه گــوره ظـالمې چــې بدنامـه بـه شــې
که چا شک وکړو نو اعتبار کې دې بيا خامه بـه شــې

کله ځان تــه شــو وصـال کــې بـه بيـا وکـړو ديـدن
زړه دې لـږ صـبر کـه جانانـه چــې ناکامـه بـه شــې

که په وصال کې دې زړه تنگ شــو او روانـه شــولې
نه دې پرېږدمه لـږ بـه تـم شــې بيـا روانـه بـه شــې

که مونږ قسمت چېرته يو ځای کړو او د رب رضـا وه
د زړه ارمــان بــه دې پــوره شي او آرامــه بـه شــې

تــه د *مياخېـل* غمونـــو وخـــوړلې خـــواره شـــولې
که په نصيب دې شو خوښی نه گل اندامـه بـه شــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د غشـو خيـال كـوم چـې كلـه دې بڼـو تـه ګـورم
راتــه رايـاد شي چـې د تـا لارو كوڅـو تـه ګـورم

زه يمـه شـيخ درتـه اظهـار د مينـې نـه شـم كـوى
راتـه حيـا راځـي چـې كلـه مـې تسـبو تـه ګـورم

پــه تــا مــين يــم د خــانۍ دې پــروا نــه لرمــه
په خداى باور وكړه كـه زه بـه دې پيسـو تـه ګـورم

په غريبۍ كـې مـې زړګـى رانـه سـتا مينـه غـواړي
ځان ته حيرانه شم چې كلـه مـې خيـالو تـه ګـورم

*مياخېله* فكر مـې بـدل شي چـې كتـاب دې لـولم
دربانـدې وياړمـه چـې سـتا دې غزلـو تـه ګـورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

څو کاله وشـول چـې خـبر دې لـه احوالـه نـه يـم
کـډه دې لاړه لـه دې کـلي زه خوشـحاله نـه يـم

زړه مـې ځـوريږي هميشـه د تـا بيلتـون کـې لـيلا
تر اوسـه خـلاص د تـا د مينـې لـه جنجالـه نـه يـم

له کومه وخته چې دې کـور لـه دغـې کـلي تللـی
په رب قسم په ځان مې پـوه لـه هغـې کالـه نـه يـم

الله ته طمع لرم يو ځای به شو بيا کـوم وخـت کـې
نـا اميـد شـوی خـو زه سـتا لـه دې وصـاله نـه يـم

له جدايۍ نه مې ډېر وخت تېـر شـوی ای *مياخېلـه*
اوس خو په مينه کې له هـر چـا سره سـياله نـه يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

چــې تــه لاړلــې جانانــه ارمانونــه مــې شــول خــاورې
چې دې کبر په ما وکړ ټول خوبونه مې شــول خــاورې

د بیلتـــون پېښـــه دې داســـې یـــوه غټـــه حادثـــه ده
چې زغملی مې هیڅ نه شو پلانونه مــې شــول خــاورې

له کوم وخته چې ته شولې د بـل چـا د ژونـد ملگـری
په ځان پوه شومه ملگرو دیدنونـه مـې شـول خـاورې

عـــادت شـــولمه یـــاره جـــدایۍ سره دې نـــوره
نو ځکه پـه خپـل وار سره غمونـه مـې شـول خـاورې

ملگـرو تـه مجلـس کـې نـن *میاخېـل* وویـل داسـې
د وخـت پـه تېرېـدو سره یادونـه مـې شـول خـاورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

د تـا لپـاره خـو د بـر کـلي ګـودر مـې خـوښ دی
چې دې کوم پکې ديدن ځکه سـحر مـې خـوښ دی

چـې ورتـه هـر وختـې روانـې وي د کـلي نجـونې
په ټول ورځ کې ليلا وخت د مـازيګر مـې خـوښ دی

د تا ديدن بانـدې زه اخلمـه پـه مـن مـن پـه غوښـې
که دې لېدو کې کوم خطر وي بيا خطـر مـې خـوښ دی

چـې مخـامخ شـو د ديـدار پـه حـال کـې يـاره زمـا
راته ته ګوره ډېـر پـه مينـه سـتا نظـر مـې خـوښ دی

نـه کـوم مينـه کـې دوکـه ورسره هـيڅ *مياخېلـه*
په خدای بارو وکړه چې زړه نه مې دلبر مې خوښ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

مه کړه جفا زما د خوږ زړګي درمان يې ته خو
د خپل د مور او پلاره ما باندې ډېر ګران يې ته خو

ولې دې قدر باندې نه پوهېږې ای ظالمې
زما د ژوند د خوشحاليو يو ارمان يې ته خو

زه خو ټول ژوند د تا په نوم تېروم ای محبوبې
زما په مينه چې ته کبر کړې نادان يې ته خو

را ته دې راکړل د دروغو ډېر لوزونه ليلا
زه يمه پوه راسره ټک او برګ روان يې ته خو

*مياخېل* عاشق دی اوس د تا په حسن ځان خبر که
پروا يې نه لري چې زوړ يې او که ځوان يې ته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

پــه مــا خــو ښــه لگــي جانانــه دغــه درې خــبرې
چـــې راتـــه وايـــې د واده او د كـــوږدې خـــبرې

زما به زړه تنگ نه شي هيڅكلـه د تـا پـه خـوا كـې
كه راتـه وكـړې تـه همـيش ډېـرې اوږدې خـبرې

ډېرې وعدې دې راته راكړې پـه وصـال كـې يـاره
نه مې هيرېږي په خپل ژونـد د هغـه شـپې خـبرې

چې غم دې زور وكړي په ما بيا زه دې خواته راځـم
راتــه كــوه بيــا پــه نــازو خــوږې، خــوږې خــبرې

په هغه شپه يې په وصال *مياخېل* تـه داسـې وويـل
چې څوك بـه ونكـړي زمـا غونـدې پسـتې خـبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ما پسې بد مه وايه خېر دی بهسودوال دې يمه
يو ځای اوسېږو بيا اخر خو کليوال دې يمه

چې ستا په مينه کې هر څومره په تهمت کې ګير شم
پروا يې نه لرم د زړه نه مينوال دې يمه
ستا په بېلتون کې خو ځورېږم په هر وخت کې ګرانې
خدای ته اميد لرم په طمعه د وصال دې يمه
په غريبۍ کې چې ستا غم رابانددې زور راولي
بيا کار مزه نه کوي ځکه چې په خيال دې يمه
زه به دعا وکړم چې کور کې مې ښادي جوړه شي
زړه مې تنګ شوی وږی تږی د جمال دې يمه

*مياخېل* خو وايي خدای دې ورسوه غټ مقام ته
ته به مشري وکړې او زه به مرستيال دې يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په تا مئین یم د حیا نه څه ویلی نه شم
له رب دې غواړم جدایي دې زه منلی نه شم

زمونږه کلي کې لېدلو ته هم جرم وايي
همدا يې وجه ده چې سم درته کتلی نه شم

ریبار چې ولېږمه و یې شړې کور مخې نه
بیا د ژړا نه بې غېر نور څه زه کولی نه شم

رب ته تل سوال کوم چې راکړي خوشحالي په ژوند کې
په تا ځوریږمه غمونه دې لیدلی نه شم

*میاخېل* خو وايي په ژوندون کې که زما نه شولې
غم به دې دروند وي په اوږو يې بیا وړلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پــــه زړه دې وويشـــــتم د حســــن دې ســــودا کومــــه
پــــه يــــو ســــاعت کـــې اوس شـــپېته وارې ژړا کومــــه

زما په زړه کې دې خپل ځان لـه تـاج محـل جـوړ کړلـو
بيــا دې پــرې کــبر وکــړ ځکــه خــو خبــرا کومــه

چې غم دې سپک شي د همدې لپاره هر وخـت کـې زه
د بيلتـــون بحـــث دې لـــه هـــر چـــا سره جـــلا کومـــه

داسې ونه وايې چې يـار مـې پـه بيلتـون خوشـحال دی
زه خـــو خـــبرې لـــه ډېـــر درد نـــه پـــه خنـــدا کومـــه

*میاخېـل* خــو وايــي کــه رضـا بانــدې زمــا نــه شــولې
بيــا بــه پــه تــا بانــدې جــادو پــه کــوم مــلا کومــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

زه چې راغلی وم خپل کور کې دې ويده و کنه
زما مطلب ددې راتلو نه ستا کاته و کنه

په جدايۍ کې دې په هره لحظه وسوم ياره
په زړه مې درد خو دغه ستا د بېلتانه و کنه

ته خو به مسته گرځېدې د چا په غم کې نه وې
ته څه خبر وې ستا دا حسن مې په زړه و کنه

ستا د لېدو خو زه هميش وږی او تږی ومه
همدا علت زما د وزن کمېده و کنه

*مياخېل* تبا شو ستا په مينه کې غزلې ليکي
اصلي مجرم يې دغه ستا کاږه باڼه و کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په جدايۍ کې دې زما زړګی درديږي کنه
په ميتوب کې سترګې سترګو نه شرميږي کنه

ګلي کې ستا د حسن غټه اوازه خپره ده
ځان ته پلو ونيسه مخ دې ډېر ځليږي کنه

مين دې زه يم په قسمت کې د بل چا شولې ته
ځکه له سترګو نه مې اوښکې روانيږي کنه

د خدای رضا به وي دې کار کې زه به څه ووايم
کنه تښتومه دې خو نوم زمونږ بديږي کنه

*مياخېل* غيرت لري په مينه کې دې سر نه تېر دی
د ګلي خلکو د پيغوره هم ډاريږي کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه خـــو درتلمـــه ارمـــانجن دې د ديـــدار ومـــه زه
نصـيب مــې بــد و ومــې نــه لېــدې بـيمار ومــه زه

په هغه ساعت کې چې تصوير دې زما خيال کې راغــی
خلکـو تــه داسـې ښـکارېدم چـې ډېـر خـمار ومـه زه

تا خو به ماته تل ويل چـې زه خـو سـتا يـم پـه ژونـد
ولـــې دې هېـــر کـــړه دا خـــبره د تـــا يـــار ومـــه زه

د تـــا د مينـــې غلامـــي هـــم مـــا قبولـــه کړلـــه
کـــه تـــا منلـــه همېشـــه بـــه لـــه تـــا ځـــار ومـــه زه

*مياخېل* ويل چې کله پـوه شـومه ټـول غـم دی مينـه
لـــه هغـــې وروســـته بـــه روان پـــه خپلـــه لار ومـــه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

کـــه کلـــه راغلمـــه لـــه تـــا سره غرمـــه کومـــه
بيـــا ســـتا پـــه خوښـــه يـــوه ښـــکلې زمزمـــه کومـــه

د تا خوښيږي چې چا کړی وي سينګار کې ځان ته
همـدې لپـاره خـو پـه سـترګو کـې رانجـه کومـه

د تا ديدار به مې مطلب وي ستا کـوڅې تـه درځـم
رقيـــب بـــه وســـوځوم انګـــړ کـــې دې دمـــه کومـــه

خدايه زما يې کـړې وصـال پسـې يـې ډېـر کړېـږم
دغـــه دعـــا پـــه تهجـــد کـــې هـــره شـــپه کومـــه

*مياخېل* خو وايي چې زړګی نـور صـبرولی نـه شـم
د حســـن تـــږی دې يـــم تـــا پســـې جرګـــه کومـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

کــم عقلــه یــاره خلکــو مــخ کــې نــور اواز مــه کــوه
پــه نیمــه پــوه شــه ای جانانــه پــه مــا نــاز مــه کــوه

غږ دې ډېــر خــوږ لګــي پــه مــا بانــدې خــبره واوره
چـــې راتـــه وايـــې تـــه ټپـــه ورسره ســـاز مـــه کـــوه

چې څوک خبر نه شي زمـا او سـتا پـه مینـه بانـدې
دغـــه خـــبره د هـــر چـــا سره پـــه راز مـــه کـــوه

زه خو راغلــی وم کــور مــخ کــې دې رقیــب ولاړ و
ملامــت نــه یــم نــور کتــل پــه بــد انــداز مــه کــوه

*میاخېل* یې نه لري پـروا رقیـب بـه هـر څـه وایـي
تــه مــه ډاریــږه نــور پــروا د هــر غــماز مــه کــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *غزل*

**د صاحب شاه صابر د غزل پرليکه**

**((بې کوره شي چې څوك په بې دركـو پسـې گرځـي**
**درانه خلك سپکيږي چې پـه سـپکو پسـې گرځـي))**

**دا څنگــه زمانــه شــوه يــا بدبختــه شــولو مــونږه**
**دا خلــك اوس د خلکــو پــه خــبرو پســې گرځــي**

**ماشوم چې مـې ځلمـې شي بيـا کـوي دا دوه کارونـه**
**يـا گرځــوي ټوپــك او يــا  د ښــکلو پسـې گرځـي**

**خــو گټــه مــو قلــم کــې دی عبــث دي دا کارونــه**
**که ځوان کې مې احساس وي په ليکلـو پسـې گرځـي**

**مــزه خــو هــر څــه نلــري تعلــيم وکــړئ ځوانــانو**
**مياخېـل يـې خونـد ليـدلی اوس غزلـو پسـې گرځـي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

خدايه دا څنګـه زمانـه شـوه اوس خـو نـور راغـلي
ورتــه حېــران يــم پــه رضــا او کــه پــه زور راغــلي

ددې رضـــا او ددې زور خـــبر معلومـــه نـــده
که پوی د زور شوم نو د ټينګې مـې بيـا تـوره نـده
زمـــا تـــاريخ د عـــاجزۍ اجـــازه نـــه راکـــوي
زمـــا وجـــدان د غلامـــۍ اجـــازه نـــه راکـــوي
زما په خاوره کې چنګيز که سکندر او که برايډن راغلـی
په دې هم پوه شئ چې يې دلتـه ځنکـدن راغلـی
د انګريزانـــو مقابـــل کـــې مـــو جګـــړه ګټلـــې
د ميونـــد جنـــګ راتـــه ملالـــې پـــه ټپـــه ګټلـــې
مونږ خو نران يو زمونږ ښـځو هـم جهـاد کـړی دی
ددې نړۍ ټول تـاريخونو يـې هـم يـاد کـړی دی

نو بيا مو څنګه دا جرات وکـړو چـې راغلـۍ دلتـه؟
په نورو پوه نه يم تابوت اوس ځان ته واخلـئ دلتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــونږ د دښــمن پــه مقابــل کــې نظــر نــه ټيټــوو
يــا بــه غــازي يــا بــه شــهيد شــو خــو سر نــه ټيټــوو

د احمــد خــان د پــاني پــت جګــړه مــو يــاده نــده؟
د هغـــې ننـــګ او د غـــيرت کيســـه مـــو يـــاده نـــده؟
د امــان خــان د پــاڅونو نــه هــيڅ خــبر نــه وې تــه؟
دا انګريزانــو د ماتېــدو نــه هــيڅ خــبر نــه وې تــه؟
د شـــوروي اتحـــاد ماتـــه د چـــا نـــه هيريـــږي
دا د يـــوالي لويـــه ناســـته د چـــا نـــه هيريـــږي
د مجاهــد پــه برکــت دوی تــار و مــار شــول دلتــه
څه يې ژوندي څه يې زخمي څه يې مردار شول دلتـه
زما دې خاورې ته چـې سترګې پټـې کـړي دي چـا
يـم بـاروي هغـې تـه حـتمن ښـېرې کـړي دي چـا

دلتــه چــې هــر دښــمن راغلــی هغــې سر خــوړلی
شرمنــده تللــی پــه ســينه يــې تــل خنجــر خــوړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماشـــومتوبه د جهـــاد پـــه لـــوري وتـــى يمـــه
جهـاد مـې كـړى تـر هغـې چـې شـهيد شـوى يمـه

داسې ښكاريږي چې تـاريخ نـه مـې خـبر نـه وې تـه!
يا هم وطن كـې مـې خـبر د خپـل خطـر نـه وې تـه
نــو زه بــه تاتــه پخپــل ملــك كــې هــديره جــوړوم
د تـــا لـــه وينـــو هـــره لاره كـــې چينـــه جـــوړوم
د كومكـــو پـــه بيلابيلـــو نومـــو راغلـــې دلتـــه
ډېـر يـم حېـران فقـط زمـا پـه زارو راغلـې دلتـه
زمونږ هېواد تـه، دې راتـګ نـه بـه خېـر ونـه ګـورې
راتګ خو پريږده بيرته تـګ نـه بـه خېـر ونـه ګـورې
دلتـــه بـــه خـــاورو سره خـــاورې شـــې زمـــا دښـــمنه
دروغ يـــې مـــه ګڼـــه زه وايمـــه رښـــتيا دښـــمنه

زمـــا وطـــن پخپلـــه غېـــره كـــې بچيـــان روزلي
تـــاريخ ګـــواه دى همېشـــه يـــې بـــاتوران روزلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمـــد خـــان او مـــيرويس خـــان دلاوري رايـــاد ده
ماتـــه د هـــر يـــو نيكـــه بيـــل بيـــل سرداري رايـــاد ده

مـــا لـــه هغـــوی د ازادۍ همدغـــه لار زده كـــړی
د خپل تاريخ نه مې همدغـه يـو غـټ كـار زده كـړی
د آزادۍ لپـــــاره تـــــل بايـــــد زه وجنگيـــــږم
دا مـــو مـــيراث دی د نيكونـــو چـــې بـــه وجنگيـــږم
تر څو شـهيد يـا هـم غـازي شـم د وطـن پـه خـاطر
پروا هيڅ نه كړي كـه زخمـي شـم د وطـن پـه خـاطر
خو ته به هم دلته د وروس غونـدې بـه ماتـه وخـورې
د پاكستان هر يو جاسـوس غونـدې بـه ماتـه وخـورې
چې دلته راغلې د اكبر د كارنامې نه ته هيڅ نـه وې خـبر؟
دافغانستان د تېرې شوې زمانې نه ته هيڅ نه وې خـبر؟

بخـــارا تاشـــكند او تـــر ډهـــلي مـــو پاچـــاهي كـــړې ده
مـــونږ د نـــړۍ پـــه ډېـــرو ســـيمو بـــاداري كـــړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راتلو مخکې، دې تاریخ نه به دې ځان خبروو
د افغانستان د هر يو سیخ نه به دې ځان خبروو

مونږه خو ستا په خلاف هم ناست يو جهاد لپاره
ځان قربانی ته مونږ چمتو يو د هېواد لپاره
په رضا په پوه شه نور نو وځه دې زما وطن نه
جنګ راته مه جوړوه ما اخله ښکلا وطن نه
دا د *میاخېل* درته آخر خبرداری و یاره
چې وو روان ورسره مل د جنګ پیری و یاره
ما خپله غاړه په تا خلاصه کړه ګیله ونکړې
بیا يې هیڅ نه مني، د سولې هیڅ جرګه ونکړې
بیا به د جنګ په زور له تا سره ډغره وهي
سوله به نه کوي تول قام به دې له سره وهي

مونږ افغانان يو په جنګونو کې نومونه لرو
هم د نړۍ په تاریخونو کې نومونه لرو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**